# ساتنوالي

(د 1983 د دماغي روغتیا لایحه 7 برخه)

| | |
|---|---|
| 1. د ناروغ نوم | |
| 2. ستاسو ساتونکي<br>2.1 نوم | |
| 2.2 پته | |
| 2.3 د تیلفون نمبر. | |
| 3. ستاسو محلي د ټولنیزخدمات مسؤل شخص | |

## ساتنوالي څه شي دي؟

د 1983 د دماغي روغتیا د لایحی تر 7 برخه لاندي، هغو خلکو ته چه دماغي ناروغي لري یو ساتونکي یا محافظ چه دوي سره مرسته وکړي ورکول کیږي، که چیري دوه ډاکټران ووایي چه دغه یو ضرورت دي.

ستاسو ساتونکي کیداي شي چه ستاسو محلي د ټولنیز د خدماتو باصلاحیت اداره ، او یا ځني نور کسان ، چه د یوه با اعتبار ټولنیز و خدمانو په واسطه قبول شوي وي. که چیري ستاسو ساتونکي یوه ټولنیز با اعتبار کس نه وي ، دوي د ( شخصي ساتونکي) په نامه یادیږي.

ستاسو ساتونکي دا قانوني قدرت لري چه تاسو ته ووایي:

- چیري تاسو باید ژوند وکړي
- د روغتیایي علاج، کار، تعلیم او زده کړي د پاره ملاقاتونو ته په ټاکلي وخت حاضریدل.
- یوه ډاکټراو یا بل چا ته اجازه ورکړي چه تاسوته ووینی.

## ولي زه یوه ساتونکي ته ضرورت لرم ؟

دوه ډاکټران فکر کوي چه تاسو مرستي ته ضرورت لري چه په دغه ټولنه کي ژوند وکړي لکه چه تاسو دماغي ناروغي لري او تاسو د خپل ځان د اسایش د پاره او یا د نور و خلک د محافظت د پاره یوه ساتونکي ته ضرورت لري.

## څومره موده به دغه دوام وکړي؟

ساتنوالي د لومړي ځل دپاره تر شپږو مياشتو پوري دوام کوي.

کيداي شي چه ستاسو ساتنوالي د نورو شپږو مياشتو پوري نوي شي، او بيا يو کال نور د يو ځل دپاره، که چيري ستا د معالجي د پاره مسؤل شخص او يا هغه معرفي شوي کسان چه په طبي چارو کي حاضر دي فکر وکړي چه دغه ستا د پاره ضرورت دي. کيداي شي چه دوي تاسو سره د دغه په باره په نژدي وخت کي خبري وکړي.

ستاسو د معالجي د پاره مسؤل شخص (داکتر) او يا نور کسان، د محلي ټولنيز خدماتو د با اعتبارشخص په واسطه پوښتنه کيږي چه ايا تر اوسه تاسو ساتونکي ته ضرورت لري. که چيري تاسو يوه شخصي ساتونکي د لري، دغه د يو داکتر په واسطه اجرا کيږي چه ستاسو ً کانديد شوي طبي سرپرستً نوميږي.

## ايا زه درخواست کولاي شم؟

که چيري تاسو وغواړي چه د خپل ساتونکي کار ته توقف ورکړي، تاسو بايد د خپل ساتونکي ، ستاسو ټولنيز کارکونکي، ستا د معالجي د پاره مسؤل شخص او يا ستاسو کانديد شوي طبي سرپرست سره خبري وکړي.

همدا راز تاسو کولاي شي چه د خپل با اعتباره ټولنيزو خدماتو ته وليکي چه دوي ته ووايي چه دغه ساتنوالي ته پاي ورکړي. ځيني کسان د با اعتبار ټولنيز خدمات له خوا کيداي شي وغواړي تاسو سره خبري وکړي د مخه تر دي چه تاسو فيصله وکړي چه يو ساتونکي ته تر اوسه پوري ضرورت لري.

ستاسو نژدي قريبان کولاي شي ستاسو ساتنوالي ته د يوه تحريري درخواست په واسطه چي اعتباره ټولنيز خدماتو ته ليږل کيږي خاتمه ورکړي. دغه نشريه زيادتر تشريح کوي چه څوک ستاسو نژدي قريبان دي.

همدا راز تاسو کولاي شي چه د محکمي دادگاه نه غوښتنه وکړي چه دوي ووايي چه نور تاسو يوه ساتونکي ته ضرورت نلري.

## د محکمي دادگاه څه شي دي او څه پيښيږي؟

د محکمي دادگاه يوه مستقل هيئت دي چه کولاي شي فيصله وکړي چه تر اوسه پوري تاسو يوه ساتونکي ته ضرورت لري که نه؟ کيداي شي چه دوي ستاسو سره او د هغو کارکوکنو سره چه تاسو وپيژني يو مجلس ونيسي. دغه مجلس د ًاوريدلً په نامه ياديږي. تاسو کولاي شي چه ځيني نورو کسانو څخه غوښتنه وکړي چه دوي ستاسو د اوريدلو مجلس ته ستاسو مرستي ته راشي، که چيري تاسو وغواړي. د اوريدلو نه د مخه، د محکمي د دادگاه غړي ستاسو او ستاسو د ساتنوالي راپورونه لولي. د محکمي دادگاه د غړي د جملي څخه يوه کس کيداي شي چه راشي او تاسو سره خبري وکړي.

## کله زه کولاي شم چه د محکمي د دادگاه دپاره وړانديز ورکړم؟

تاسو کولاي شي د محکمي د دادگاه دپاره يو وار هر وخت ستاسو د لمړنيو شپږو مياشتو ساتنوالي په دوره کي وړانديز ورکړي. پس له دي نه تاسو کولاي شي چه بيا يو مراتبه په راتلونکو شپږو مياشتو وړانديز ورکړي او وروسته يوه وار په هره کال کي که تاسو تر اوسه تر ساتنواليتوپ کي قرار لري.
که چيري تاسو وغواړي چه د محکمي د دادگاه دپاره درخواست ورکړي تاسو کولاي شي چه دغه شي وليکي:

The Tribunals Service
PO BOX 8793
5th Floor
Leicester
LE1 8BN

تيلفون:0300 123 2201

تاسو کولاي شي چه د یوه وکیل څخه پوشتنه وکړي چه محکمي ته ستاسو دپاره ولیکي او تاسو سره د اوریدلو په جریان کي مرسته وکړي. ستاسو د ټولنیزو خدماتو اداره او د وکیلانو یو لست لري چه څوک په دغه کي متخصص دي. تاسو مجبور نه یي چه د مرستي حقوقي ټولنه د یوه وکیل دپاره پیسي ورکړي. دغه د قانوني مرستي د پلان په اساس چارج نلري او مفت دي.

## اجازه ورکړي چه ستاسي نژدي قریبان وپوهیږي

د دغه نشریه یوه کاپي هغه کس ته ورکول کیږي چه د دماغي روغتیا لایحه ووایي چه هغه ستاسو نژدي قریب دي.

د دماغي روغتیا په لایحه کي یو لست دي چه کوم کسان ستاسو قریبان دي. قه طبعي ډول، هغه شخص چه په لست کي لومړیتوب لري هغه ستاسو د نژدي قریب ګڼل کیږي. ستاسو د ټولنیزو خدماتو اداره کولاي شي چه تاسو ته یوه نشریه ورکړي چه دغه تشریح وکړي چه ستاسو نژدي قریبان ستاسو د مواظبت او اعلاج په ارتباط څه حقوق لري.

ستاسو په قضیه کي، مونږ ته ویلي شوي دي چه ستاسو نژدي قریبان دا دي:

|  |
| --- |
|  |

که چیري تاسو نه غواړي چه دغه سړي یوه کاپي نشریه تر لاسه وکړي، لطفاً خپل ساتونکي، ټولنیز کارکونکي یي او یا هغه شخص ته چه دغه نشریه تاسو ته ورکړي ، د واي.

که چیري تاسو فکر کوي چه دغه ستاسو د نژدي قریب په حیث یو مناسب سړي نه دي، تاسو کولاي شي چه د محل په محکمه کي د یو بل کس دپاره درخواست وکړي چه هغه وکولاي شي ستاسو د نژدي قریب په عوض چلند وکړي. ستاسو د ټولنیزو خدماتو اداره شخص کولاي شي چه تاسو ته یوه نشریه درکړي چه په هغه کي دغه تشریح شوي دي.

## د تمرین کود

دلته د تمرین یوه کود دي چه د دماغي روغتیا د لایحي په باره کي هغه خلک ته چه ستاسو په مواظبت کي اخته دي مشوره ورکوي. هغوي مجبور دي چه کود ته تر کتني لاندي ونیسي چه کود څه ویلي دي کله چه دوي ستاسو د مواظبت په هکله تصمیم نیسي. تاسو کولاي شي پوشتنه وکړي چه د کود یوه کاپي د کتلو د پاره درکړه شي، که چیري تاسو وغواړي.

### زياتي مرستي او معلومات

که چيري ستاسو د مواظبت په باره کي ځيني شيان وي چه تاسو په کي نه پوهيږي، لطفاً د خپل ساتونکي، ستاسو تېولنيز کارکونکي او يا ځيني نور کسانو چه ستاسو په مواظبت اخته دي، پوښتنه وکړي. همدا راز لطفاً د دوي څخه پوشتنه وکړي چه ستاسو د پاره تشريح وکړي که چيري ځني شيان په دغه نشريه کي ستاسو دپاره واضح نه وي او يا ته پوه نشي او يا که چيري تاسو بل پوښتنه لري چه دغه نشريه ځواب نه ورکړي .

لطفاً غوښتنه وکړي که چيري تاسو علاقمندي لري چه د دغي نشريه يوه بل کاپي د يو بل چا دپاره ورکړي.